# بانک

د افغانستان بانك میاشتنۍ

پنځلسم کال، ۱۶۸-۱۷۰ گڼه د ۱۴۰۰ کال د وږی میاشت



د افغانستان بانک د رئیس او مرستیالانو پېژند غونډه



تدویر جلسه با مسئولین بانکهای تجارتی



د سوداګریزو بانکونو سره د همغږۍ غونډه


افغانی، زمونږ د ویاړ،
اقتدار او ملي هویت نښه ده!



## د دې ګڼې مطالب


د افغانستان بانک د رئیس او مرستیالانو پېژند غونډه

تدویر جلسه با مسؤلین بانکهای تجارتی

د افغانستان بانک د سرپرست رئیس ښاغلي الحاج عبدالقاهر پیغام

د سوداګریزو بانکونو سره د همغږۍ غونډه

تدویر جلسه با تجار و صنعت‌کاران

نقش بانکها در کار آفرینی و ایجاد کسب وکار

مختصری پیرامون تاریخچهٔ بانکداری اسلامی در جهان و افغانستان

اسلامي بانکداري څه ته وايي؟

مختصری در مورد تأسیس بانک ها در افغانستان

افغانستان په کلني ډول د ۱۰۰ ټنه زعفرانو د تولید وړتیا لري

له پانګونې پرته سوداګري پیل کړئ

احتکار و اضرار آن برای جامعه

اقتصادي خبرونه

د پیسو مدیریت او سپما

مالي خپلواکۍ ته د رسېدو لارې

چگونگی رسیدن به رشد اقتصادی

په ۲۰۲۰ زېږدیز کال کې د نړۍ لس ستر صادراتي هېوادونه



بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: داکتر جهانتاب ولیزار و نصر الله ستانکزی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مسئول چاپ و توزیع: حمید الله رضایی



آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube   twitter.com/AFGCentralbank   www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک د رئیس او مرستیالانو پېژند غونډه



۱۴۰۰ د وږي لومړۍ – د افغانستان بانک رئیس او مرستیالان د دې بانک کارکوونکو ته ور وپېژندل شول. په هغه غونډه کې چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه د کلام الله مجید د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه. په دې غونډه کې ښاغلی مولوي عبدالقاهر چې په حاجي محمد ادریس سره مشهور دی، د افغانستان بانک د رئیس په توګه، مولوي عبدالقدیر مشهور په احمد او مولوي نور احمد آغا د دې بانک د مرستیالانو په توګه د ا.ا.ا د جلالتماب امیرالمومنین د نائب مولوي محمد یعقوب مجاهد د استازي له لوري معرفي شول.

د دغې غونډې په لړ کې د افغانستان بانک رئیس ښاغلي مولوي عبدالقاهر د ا.ا.ا بریا د لوی خدای ج نصرت یاد کړ او د دې لویې بریا مبارکي یې د هېواد ټول شریف ملت ته وویله. د غونډې په اوږدو کې د افغانستان بانک رئیس په د افغانستان بانک کې د کار او خدمت پر پیل خوښي وښوده او ژمنه یې وکړه چې په هېواد کې به د مالي او بانکي چارو د لا پیاوړتیا په موخه په پوره امانتدارۍ سره کار کوي. د افغانستان بانک رئیس د دې بانک ټولو کارکوونکو ته ډاډ ورکړ چې له هر ډول اندېښنې پرته به خپلو دندو ته په تدریجي ډول را وغوښتل شي.

# تدویر جلسه با مسئولین بانکهای تجارتی



۷ سنبله ۱۴۰۰ – جلسه ای به رهبری محترم مولوی عبدالقاهر ( محمد ادریس) سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در دفتر مرکزی این بانک با مسئولین بانک های تجارتی تدویر یافت. در این جلسه در مورد آغاز فعالیت های بانکی، امنیت بانکها و دریافت راه حل ها برای بیرون رفت از مشکلات صحبت صورت گرفت. طی این جلسه سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک اطمینان هر نوع همکاری را به بانکهای تجارتی داد و گفت که دروازه های این بانک همواره بر روی مسئولین بانکهای تجارتی باز می باشد.

محترم ملا عبدالقاهر یادآوری نمود که پروسه مکتوب که از طرف د افغانستان بانک به اتحادیه بانکهای افغانستان داده شده است موقتی می باشد و به گونه تدریجی بانکها فعالیتهای نارمل خود را آغاز خواهند نمود. قابل ذکر است که در مکتوب متذکره از بانکها خواسته شده است که مشتریان میتوانند هفته ای یکبار ۲۰۰ دالر امریکایی و یا هم ۲۰ هزار افغانی را به مشتریان خود پرداخت نمایند.

در این جلسه علاوه بر هیئت رهبری د افغانستان بانک، مسؤلین اتحادیه بانکهای افغانستان، مسئولین نوی کابل بانک، بانک ملی افغان، غضنفر بانک، پشتنی بانک، بانک بین المللی افغانستان، عزیزی بانک، میوند بانک، افغان یونایتد بانک، بانک اسلامی افغانستان، بانک الفلاح، بانک قرضه های کوچک افغانستان و بانک نشنل پاکستان اشتراک نموده بودند.

## بسمه تعالی

# د افغانستان بانک د سرپرست رئیس ښاغلي الحاج عبدالقاهر پیغام

الحمدلله و الصلاة والسلام علی رسول الله

اما بعد!

درنو هېوادوالو

د افغانستان بانک ټولو درنو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې د افغانستان سوداګریز بانکونه د دوی تر جدي څارنې لاندې دي او خپل ورځني عملیات تر پخوا ښه تر سره کوي او له بشپړ خوندیتوب څخه برخمن دي. د نړۍ او سیمې ټول بانکونه د معمول له مخې خپلې پانګې تر لس سلنې پورې په نقد ډول ساتي او پاتې نورې په ګټو سوداګریزو کاروبارونو کې په کار اچوي، ترڅو خپلو هېوادوالو ته مالي خدمتونه په سم ډول ورسوي.

د افغانستان سوداګریز بانکونه بیا په اوسط ډول تر پنځوس سلنې پورې خپلې افغانۍ او نور اسعار له ځان سره لري. له دې څخه دا جوتیږي چې زموږ بانکي سکتور غښتلی دی او پاتې نور یې په ګټو سوداګریزو چارو کې د هېواد د ننه او بهر پانګونې تر سره کړې دي، څو د هېواد په اقتصاد کې رغنده رول ولوبوي.

د افغانستان اقتصادي حالت ته په کتلو سره ټول بانکونه د صرافانو، شرکتونو او ملي سوداګرو په ګډون به ډېر ژر خپل کارونه عادي حالت ته را وګرځوي او خپلې چارې به په ښه او ډاډمنه توګه پر مخ یوسي. همدارنګه د افغانستان بانک ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې بانکي سکتور به له کلک عزم، له فساد پرته او له نویو بانکي برنامو سره خپلو هېوادوالو ته بانکي خدمات وړاندې کړي.

په پای کې د هېوادوالو له صبر او حوصله مندۍ څخه مننه کوو

د افغانستان بانک سرپرست رئیس

الحاج عبدالقاهر (محمد ادریس)



# د سوداګریزو بانکونو سره د همغږۍ غونډه



۱۴۰۰ د وږي ۱۵مه – د افغانستان بانک د سرپرست رئیس ښاغلي ملا عبدالقاهر په مشرۍ د سوداګریزو بانکونو له استازو سره د همغږۍ غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د پیسو د کورني او نړیوال لیږد را لېږدپه اړه هر اړخیزې خبرې وشوې او د نظرونو تبادله تر سره شوه.

د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د سوداګریزو بانکونو استازو ته په دې اړه لازمې لارښوونې وکړې او له دوی یې وغوښتل چې د بانکي خدمتونو په برخه کې د خلکو لپاره لا زیاتې آسانتیاوې رامنځته کړي.

د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي عبدالقدیر احمد د غونډې په وروستی برخه کې یادونه وکړه چې د ا.ا.ا د مالي او بانکي سکتور پر مختګ ته ژمن دی او هڅه کوي چې د سوداګریزو بانکونو ټولو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وشي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د رهبري پلاوي او یو شمېر کارکوونکو سربېره د بانکونو د ټولنې مسئولینو، د نوي کابل بانک، افغان ملي بانک، غضنفر بانک، پښتني بانک، د افغانستان نړیوال بانک، عزیزي بانک، میوند بانک، افغان یونایټډ بانک، د افغانستان اسلامي بانک، الفلاح بانک، د کوچنیو پورونو لومړني بانک او د پاکستان نشنل بانک استازو ګډون کړی وو.

# تدویر جلسه با تجار و صنعت‌کاران




۱۵ سنبله ۱۴۰۰ – جلسه ای به رهبری محترم عبدالقدیر احمد معاون دوم د افغانستان بانک با چند تن از تجار و صنعت کاران کشور تدویر شد.

در این جلسه در مورد مشکلات و پشنهادات تجار و صنعت‌کاران کشور در بخشهای مالی و بانکی صحبت و تبادل نظر صورت گرفت.

در جریان این جلسه معاون دوم د افغانستان بانک از تلاشهای آنان در بخشهای صنعت و تجارت ابراز تشکری نموده، گفت که د افغانستان بانک در پرتو قانون و مقررات متعهد به رسیدگی به مشکلات و پشنهادات آنها می باشد.

قابل ذکر است که د افغانستان بانک متعهد به تقویت نظام مالی و بانکی کشور است و تلاش می نماید که برای صنعتکاران و تجار کشور تسهیلات لازم را فراهم سازد.

د افغانستان اسلامي امارت

# د افغاستان بانک خبرتیا

د افغانستان بانک د قانون د دري دېرشمې مادې سره سم د افغانستان دودیزه پیسې او پولي واحد افغانۍ دي. له همدې امله د ټولو افغانانو، دولتي او خصوصي ادارو او مؤسسو څخه غوښتل کېږي څو په قرار دادونو، نورو پولي معاملو او په اقتصادي راکړو او ورکړو کې له افغانیو کار واخلي، څو اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره شي.

# اطلاعیۀ د افغانستان بانک

مطابق مادۀ سی و سوم قانون د افغانستان بانک پول رایج و واحد پولی افغانستان افغانی است. بناءً از عموم افغان ها، دوایر و مؤسسات دولتی و خصوصی خواسته میشود تا در قرار داد ها و سایر معاملات پولی و داد و ستد های اقتصادی از پول افغانی استفاده نمایند تا سبب رشد اقتصادی گردد.



# نقش بانکها در کارآفرینی و ایجاد کسب و کار











وقتی حرف از توسعه‌ی کارآفرینی در کشور است، نمی توانیم نقش بانک‌ها را در آن نادیده بگیریم. بدون تردید که اقتصاد همه کشور ها و بخصوص کشور ما وابسته به بانک‌ها است. در این میان یکی از وظایف اصلی بانک‌ها جمع آوری پول های راکد مردم و هدایت آن در مسیر فعالیت‌های اقتصادی مورد نیاز کشور است.

غلام‌حسن زاهدی، مدیر عمومی روابط فرهنگی پوهنتون پُل تخنیک کابل

در شرایطی که کشور از لحاظ اقتصادی با تعدادی از مشکلات روبرو است، توسعه کارآفرینی از ملزومات برون‌رفت از این شرایط می باشد. حال باید دید که آیا بانک‌ها منابع خود را در مسیر توسعه کارآفرینی و در نتیجه توسعه اقتصادی کشور به کار می‌برند یا خیر؟

در واقع پول مردم به عنوان قرض در بانک‌ها سپرده گذاری شده تا در قالب تسهیلات مالی به فعالان اقتصادی عرضه شود. نکته‌ی قابل تأمل این است که این خدمات باید به گونه‌ی باشد که فعالان اقتصادی را در مسیر تولید و کارآفرینی یاری کند.

## بانک‌ها در حمایت از تولیدات داخلی موجب کارآفرینی

نقش بانک‌ها در حمایت از تولیدات داخلی و ایجاد رونق اقتصادی بی بدیل است که تسریع دوران پول و افزایش قدرت خرید مردم را می تواند بهبود بخشد.

برخی معضلات و مشکلات مانند کاهش سرمایه‌گذاری یا نوسان رشد اقتصادی نباید امید ما را تحت تأثیر قرار دهد؛ بلکه باید به دنبال راهکارهایی برای تجهیز منابع و استفاده از ظرفیت‌های موجود برای بیرون رفت از مشکلات اقتصادی باشیم.

نظام بانکی باید دغدغه‌های اساسی کشور که همانا ایجاد کسب‌وکار است را درک کند و برای رفع آن‌ها کمک نماید.

بانک‌ها باید به همه متقاضیانی که در حوزه سرمایه گذاری و تولید اقدام می کنند، کمک کرده تا با این کار خود زمینهٔ کسب‌وکار را در بازار ایجاد کنند.

نظام بانکی نباید تنها با اعطای تسهیلات، عرضه خدمات و چرخش پول در نظام بانکی بسته شود، بلکه بازار سرمایه و پول، مکمل یک‌دیگرند.

بانک‌ها بزرگ ترین حامیان نظام تولیدی‌اند و نه تنها بر سر راه آن مانعی ایجاد نمی کنند، بلکه سهم عمده ی در ارائه تسهیلات به شرکت های تولیدی دارند. بانک‌ها باید زمینهٔ تسهیلات بیشتر بانکی را برای شهروندان کشور فراهم سازند تا رونق تولیدات داخلی به وجود آمده و زمینه کار و اشتغال مساعد شود.

## نقش بانک‌ها در ایجاد کسب و کار

جوانان تحصیل یافته که فرصت جذب در بازار کار را پیدا نمی کنند، می‌توانند با استفاده از خدمات و تسهیلات اعطایی بانکی، به کارآفرینان و صاحبان مشاغل کوچک تبدیل شوند.

در عصر حاضر نظام بانکی نقش حیاتی را در اقتصاد جوامع ایفا می کند. بانک‌ها با در دست داشتن نبض اقتصادی جامعه می‌توانند اقتصاد هر کشوری را به مسیر مورد نظر خود هدایت کنند. رویکرد اصلی بانک‌ها در جوامع توسعه یافته حمایت از اقشار آسیب‌پذیر و کمک به توزیع عادلانه ثروت در میان اقشار مختلف جامعه است.

بانک‌ها در کاهش اختلاف طبقاتی در میان افراد جامعه زمینهٔ رشد و پیشرفت اقتصادی را فراهم می کنند. ارائه خدمات و تسهیلات ویژه به اقشار آسیب پذیر جامعه و حمایت از کارگاه ها و صنایع کوچک باعث پویایی اقتصاد شده و با تبدیل اقشار متوسط و کم برخوردار جامعه به کارآفرینان و صاحبان صنایع کوچک و مشاغل خانگی و در نهایت به رشد و شکوفایی اقتصاد جوامع کمک می کند.

## تسهیلات بانکی گام مؤثر در ایجاد اشتغال

بانک‌ها به عنوان ماشین محرک و شتابنده یکی از مهم‌ترین و تأثیرگذارترین پدیده در ایجاد کسب وکار، کارآفرینی، اشتغال‌زایی، اعطای تسهیلات بانکی، سرمایه‌گذاری روی تولیدات داخلی، رونق اقتصادی و استفاده از ظرفیت های داخلی پنداشته می‌شوند.

»

بانک‌ها با ارائه تسهیلات و عرضه خدمات میان اقشار مختلف جامعه به اشتغال‌زایی و کارآفرینی کمک کرده و با اعطای قرضه و فراهم آوری تسهیلات ویژه به مردم مناطق محروم کشور زمینهٔ دسترسی تمام مناطق کشور را به امکانات و خدمات بیش‌تر تسهیل می بخشد.

بانک‌ها هم‌چنین با توانمندسازی و حمایت از اقشار آسیب‌پذیر جامعه و مبدل ساختن آن به کارآفرینان و صاحبان صنایع کوچک، در صدد اند تا مشتریانی خاص و ویژه برای نظام بانکی تربیت کنند تا در نهایت به گردش بیش‌تر سرمایه در نظام بانکی و رشد بیش‌تر اقتصاد کمک کنند.

بانک‌ها می‌توانند در دستیابی به اهداف اقتصادی و توسعه کارآفرینی نقش تعیین کننده‌ی داشته باشند که در این راستا برای دستیابی به اهداف مورد نظر و ایفای نقش مؤثرتر در توسعه کارآفرینی و ایجاد اشتغال گام‌های مؤثر اقدامات علمی را انجام دهند. همچنان بانک‌ها با توجه به ظرفیت و توانمندی‌هایی که دارند، به منظور تحقق اهداف توسعه کارآفرینی تمام برنامه‌ها و سیاست های خود را براساس شاخص‌های اقتصادی به اجراء بگذارند.

## نتیجه‌گیری

به صورت کُلی از این مقاله چنین نتیجه گرفته می شود که وظیفه اساسی و بنیادی بانک‌ها نه تنها جمع آوری پول و سرمایه‌گذاری به شمار می‌رود؛ بلکه توجه به اشتغال‌زایی، ایجاد کسب وکار و کارآفرینی از بخش‌های عمده فعالیت بانک محسوب می شود. بانک ها کارآفرینان جدید را تشویق می کنند تا در راستای اکتشاف نواحی جدید فرایندهای تولیدی گام بردارند.

بانک‌ها با ارائه‌ی تسهیلات بانکی، ارائه مشوره‌های سازنده و بهبود محیط کسب‌وکار به منظور تسهیل فعالیت کارآفرینان و متشبثان بخش خصوصی در کنار بخش دولتی نقش نهایت تأثیرگذار را دارند. پژوهش‌های انجام شده در سطح جهان گواهی این است که روند اشتغال‌زایی در جهان حاکی از حرکت اقتصادها و حمایت بانک ها به سمت نوآوری، فن‌آوری، توسعه شرکت های بزرگ و مدیریت سالم آن‌ها جهت خلق شغل است.

با توجه به پیشرفت و موفقیت بانک‌ها در جهان پیش‌رفته، می‌توان چنین نتیجه‌گیری نمود که رابطه بانک‌ها با رشد اقتصادی کاملاً یک رابطه مستقل است. یعنی به هر اندازه‌ی که بانک‌های خصوصی و دولتی تمرکز بیش‌تری روی حمایت از اشتغال در کشور داشته باشد، به همان میزان رشد اقتصادی بهبود می‌یابد.

با نظر داشت موارد فوق، پیشنهاد می گردد تا به منظور ارتقای سطح اشتغال و رشد اقتصادی کشور، باید رویکرد سیاست‌گذاری بانکی کشور از رویکرد صرف تجاری به رویکرد توسعه ی و اشتغال‌زایی تغییر کند.

**منابع:**

۱- مقاله نقش بانک‌های توسعه در توسعه و اشتغال‌زایی، نویسنده: حمید پاداش، سال ۱۳۹۷.

۲- مقاله نقش بانک‌ها در توسعه کسب‌وکارهای خُرد، نویسنده: آزاده محمد پورلیما ۱۳۹۷.

۳- مقاله نقش تاثیرگذار بانک‌ها در مدار کارآفرینی، سایت https://searchlee.com/ سال نشر ۱۳۹۷.

۴- بررسی و تبیین نقش تسهیلات بانکی در رونق کسب‌وکارهای کوچک و متوسط، سایت https://www.sid.ir سال نشر ۱۳۹۴.



# مختصری پیرامون تاریخچهٔ بانکداری اسلامی در جهان و افغانستان

آنچه در بانکداری اسلامی ارزش دارد، بانکداری بدون ربا جهت تأمین عدالت اجتماعی در جامعه است. اسلام مالکیت اشخاص را محدود نکرده، حتی یک شخص می تواند ثروت زیادی داشته باشد، اما آنرا باید حبس و دفن نکند، بلکه آنرا در معرض دادوستد و فعالیت های اقتصادی بدون ربا قرار دهد.

از دید اسلام اگر ثروت در گردش باشد، هم مالک آن و هم سایر افراد جامعه از آن بهره مند می گردند. همچنان در دین اسلام به اعطای قرضه و اعتبارات بیشتر تأکید شده است.

علت اصلی به میان آمدن بانکداری اسلامی اینست که مسلمانان استقبال چندانی از تودیع پول شان به بانک های سنتی نکرده و سرمایهٔ شان را در آنجا سپرده گذاری نمی کردند.

مفاهیم اصلی مورد استفاده در بانکداری اسلامی مرابحه است. در مرابحه در یک قرارداد رهنی به جای اینکه برای خرید یک کالا، وام در اختیار خریدار قرار گیرد، بانک ها خود اقدام به خرید کالا نموده و سپس آنرا به خریدار می فروشند و وجه آنرا بصورت قسطی دریافت می کنند. همچنان انواع دیگر تسهیلات بانک های اسلامی را پرداخت وام به شرکت ها بر اساس نرخ بهرهٔ شناور که با تغییر عواملی مانند نرخ بهرهٔ بازار سهام، نرخ تورم و غیره تغییر می کند، می باشد. نرخ بهرهٔ شناور را نرخ بهرهٔ متغیر یا قابل تنظیم نیز یاد میکنند. در مقابل آن نرخ بهرهٔ ثابت است که در آن، نرخ بهرهٔ بدهی در مدت زمان توافق شده ثابت می ماند.

در ابتداء بانک های پس انداز اسلامی در سال ۱۹۶۳ در مصر تأسیس شد، اما این بانک های پس انداز نظر به دلایل نا معلومی در سال ۱۹۶۸ تعطیل گردیدند و در سال ۱۹۷۲ بانک اجتماعی

»

ناصر به عنوان یک مؤسسهٔ اسلامی در این کشور تأسیس گردید.
فعالیت های اساسی بانکداری اسلامی به سال ۱۹۷۴ باز میگردد. در این مدت بانکداری در میان کشورهای مانند: کشور های عربی، ایران، پاکستان و کشور های جنوب شرق آسیا نیز گسترش یافت.

بانک اسلامی دبی در سال ۱۹۷۵، خانهٔ مالی کویت در سال ۱۹۷۷، بانک اسلامی فیصل در مصر و سودان توسط شهزاده محمد بن فیصل سعودی در سال های ۱۹۷۷ و ۱۹۷۸، در ایران در سال ۱۹۷۹، در پاکستان در سال ۱۹۸۰، در اردن در سال ۱۹۷۸، در بحرین در سال ۱۹۸۱، در قطر در سال ۱۹۸۳، در مالیزیا و بنگله دیش در سال ۱۹۸۳، در فلیپین در سال ۱۹۷۳، در لوگزامبورگ در سال ۱۹۸۳، فعالیت های بانکداری آغاز گردید و به همین سال فعالیت های بانکداری اسلامی در کپنهاگ دنمارک و ملبورن آسترالیا نیز آغاز شد.

در سال ۱۹۹۹ دانشمندان اقتصاد مانند ناصر، چنین استدلال کرده اند که بانکداری اسلامی نسبت معقول بودن سیستم اش تنها به بانک های اسلامی مختص نمی شود. آنها می گویند، بانک های تجارتی بین المللی بزرگ به سیستم بانکداری اسلامی خیلی دلچسپی پیدا کرده اند.

انگلستان نخستین کشور غربی است که به تأسیس بانکداری اسلامی در سال ۲۰۰۴ بر اساس تصویب FSA اقدام نمود. این کشور بواسطهٔ شرکت های بزرگ بین المللی و بانک های سنتی آسیای مرکزی که محصولات بانکداری اسلامی را در انگلستان و سایر کشور ها ارائه می نمایند به یک مرکز مهم مالی تبدیل شده است.

افغانستان در سال ۱۳۹۴ به اساس قانون جدید بانکداری، اعلان نمود که پروژه سیستم بانکداری اسلامی در بانک ها تکمیل گردیده است و تمام بانک های فعال دولتی و خصوصی افغانستان می توانند بعد از این، سیستم بانکداری اسلامی را به مشتریان خود فعال نموده و خدمات بانکداری اسلامی را برای آنها ارائه نمایند.

طوریکه هویداست تعداد زیادی از مردم افغانستان سیستم بانکداری اسلامی را ترجیح می دهند. بناءً جهت جذب سپرده های مردم و بکار گیری آن در بخش های تولیدی لازم است تا بانک های موجود در کشور در کنار بانکداری سنتی باید فعالیت های شان را در بخش بانکداری اسلامی نیز توسعه بخشند.

در حال حاضر در کنار شاخه های بانکداری اسلامی بانک های دیگر، یک بانک اسلامی نیز فعالیت می نماید که فعالیت این بانک مبتنی بر اقتصاد اسلامی بوده و محصولات آن شامل معاملات مرابحه، مضاربه، مشارکه، اجاره و غیره می باشد و به اساس استندردهای اسلامی به پیش می رود. •

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

1. http://noorahmadfahim.blogfa.com/post/ اهمیت و فواید بانکداری اسلامی/ تاریخ نشر: سه شنبه ۱۳۹۱/۰۴/۱۳ توسط نور احمد فهیم
2. http://ejjp.ir › article-1-422-fa بانکداری اسلامی دربرخی کشورهای جهان/ مجله اقتصادی – ماهنامه بر رسی مسایل و سیاست های اقتصادی 1391 تاریخ نشر : سنبله و میزان
3. https://dari.wadsam.com عنوان / اعلام رسمی سیستم بانکداری اسلامی از سوی بانک مرکزی / تاریخ نشر : ۲۳ / ۷/ ۱۳۹۴
4. https://dab.gov.af د افغانستان بانک پیرامون بانکداری اسلامی و ترویج پول ملی

## اسلامي بانکداري څه ته وايي؟

**په لنډه توګه، اسلامي بانکداري د شريعت او اسلامي قواعدو پر بنسټ ولاړ يو سيستم دی چې د تشبثاتو، سوداګرۍ او د اســلامي بانکدارۍ د ودې او د اشخاصو او تشبثاتو د مالي اړتياو پوره کولو لپاره بانکي خدمات او محصولات وړاندي کوي.**



### د اسلامي بانکدارۍ ځانګړتياوي

- په معاملو کې د سود يا ربحی نه شتون
- په ګټه او تاوان کې شراکت
- هغه معاملو کې چې غرر ( ناڅرګندتيا يا نه رونوالی) وی پانګونه منع ده
- په حرامو کارونو او خدماتو کې بانګونه منع ده. لکه الکولي مشروبات، د خنځير غوښه او قمار
- په معاملو کې چل او احتکار منع دی
- معاملی بايد د دوه يا څو اړخيزه ډلو په پوره هوکړې او روڼوالي سره ترسره شي







# مختصری در مورد تأسیس بانک ها در افغانستان

در افغانستان تا سال ۱۳۱۲ هیچ بانکی وجود نداشت و تا آن زمان، مال شاهی در خزانه ی شاهی نگهداری می شد و همچنان مردم دارایی و سرمایه ی خود را خود شان حفظ و نگهداری می کردند تا اینکه یک شرکت سهامی زیر نام شرکت سهامی هاشمی در سال ۱۳۱۱ به ابتکار محترم مرحوم عبدالمجید زابلی تأسیس گردید. بعد از مدت یک سال، این شرکت سهامی در سال ۱۳۱۲ بنام بانک ملی افغان مسمی گردید و به حیث اولین بانک در افغانستان پا به عرصه ی وجود گذاشت. این بانک در افغانستان وظایف بانک مرکزی را نیز به عهده داشت و وظیفه‌ی آن روز بروز گسترش می یافت.

بعد از سپری شدن مدت زمانی، در سال ۱۳۱۸ هجری شمسی د افغانستان بانک یا بانک مرکزی افغانستان قرار تصویب شماره ۱۵۲ مورخ ۱۳۱۸/۲/۳ هجری شمسی مجلس وزرا، تصویب شماره ۱۱ مورخ ۱۳۱۸/۶/۱۹ هجری شمسی شورای ملی، تصویب تاریخی ۱۳۱۸/۶/۱۲ هجری شمسی مجلس اعیان و منظوری ۱۳۱۸/۱۱/۷ حضور شاهانه به مبلغ ابتدایی

»



۱۲۰ میلیون افغانی در شهر کابل افتتاح شد.

بعد از تأسیس د افغانستان بانک، وظیفه چاپ و نشر پول افغانی به آن سپرده شد. این بانک در جریان سال های متمادی تحولات عظیمی را در عرصه چاپ و نشر پول افغانی و سایر عرصه های اقتصادی ایفا نمود.

این بانک پس از سال ۱۳۸۲ مطابق ماده ی دوازدهم قانون اساسی به حیث بانک مستقل دولتی عرض اندام نموده و توانست قانون د افغانستان بانک، پول و بانکداری، قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرائم و غیره را تسوید نماید. این همه قوانین بعد از تصویب شورای ملی و توشیح مقام محترم ریاست جمهوری افغانستان درمعرض اجراء قرار گرفت.

د افغانستان بانک در پرتو قوانین فوق وارد مرحله ی جدید شد و توانست با تطبیق ریفورم پولی و نشر پول جدید، بحران تورم پولی را در کشور مهار کند. باید گفت که در گذشته با روی کار آمدن هر رژیم جدید، پول افغانی دستخوش تغییر و تحول بوده است.

باید گفت که قبل از جنگ های داخلی، در کشور شش بانک دولتی و نیمه فعال وجود داشت که بیشتر آنها در اثر جنگ ها سرمایه و جایداد های شان را از دست دادند و بعد از تصویب قانون بانکداری جدید، تنها بانک ملی افغان و بانک پشتنی توانستند به فعالیت خود ادامه دهند و بقیه همه از سیستم بانکداری حذف گردیدند.

بعد از سال ۱۳۸۲ و تصویب قانون بانکداری در کشور، بانک های خصوصی پا به عرصه ی وجود نهادند و در حدود ۱۷ بانک خصوصی طی سال های متواتر از د افغانستان بانک جواز فعالیت اخذ نمودند. در موجودیت این بانکها در حدود بیشتر از ۵۰۰۰ شغل ایجاد گردید.

این بانک ها با شبکه و سیستم های مختلف وصل می باشند که انتقالات ملی و بین المللی پول مانند انتقال پیام حواله های پولی اشخاص و شرکت های تجارتی را بصورت رمزی و خیلی محرمانه ارسال می نمایند.

خدمات بانکداری در افغانستان شامل انواع حساب ها، ارائه انواع قرضه به سکتور های مختلف ( خدمات، زراعت و صنعت)، خدمات بانکداری اسلامی، حساب های جاری، پس انداز و میعادی، حساب های سپرده های سه ماهه، شش ماهه و یکساله، پرداخت انواع قرضه های تولیدی، تجارتی، خدماتی، قرضه به کارکنان دولت، لیتراف کریدت و غیره می باشد.

خدمات الکترونیکی بانک های دولتی و خصوصی در افغانستان روز بروز در حال توسعه هستند. اگر کسی در این بانک ها حساب بانکی داشته باشد، به راحتی در هر کجا و وقت و زمان به آن دسترسی داشته و به آسانی می تواند آنرا در هر کجای جهان انتقال دهد و از آن در خرید و فروش ها استفاده نماید.

همچنان در حال حاضر تمام بانک های افغانستان به شبکه ی بین المللی وصل بوده و بخوبی می تواند به ارائه انواع کارت های الکترونیک مانند کریدت کارت، دیبت کارت، ماستر کارت و ویزا کارت پرداخته و ارائه خدمات از طریق انترنت و موبایل نیز در خدمت مشترکین قرار دهد.

در حال حاضر در افغانستان ۱۲ بانک تجارتی و صد ها نمایندگی آن در سایر نقاط کشور فعالیت می نمایند که خدمات مختلف بانکی را به مردم عرضه می نمایند.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:
۱. / fa.m.wakipedia.org :عنوان/ بانکداری در افغانستان
۲. https://www.dab .Gov.af/ :عنوان/ تاریخچه د افغانستان بانک
۳. / BBC news :عنوان/ بانکداری در افغانستان: ده درصد مردم حساب بانکی دارند. نویسنده: نصیر بهزاد، تاریخ: ۱۴ / جون / ۲۰۲۰



## افغانستان په کلني ډول د ۱۰۰ ټنه زعفرانو د تولید وړتیا لري

افغانستان چې یو کرنیز هېواد دی او زیات شمېر وګړي یې په کرنه بوخت دي، د دې هېواد خاورې او اقلیم ته په کتو په کلني ډول د ۱۰۰ ټنه زعفرانو د تولید وړتیا لري. په نړۍ کې هر کال له زعفرانو څخه ۳۰۰ زره متریک ټنه تار او وچ شوي پوډر په لاس راځي چې کابو ۱۰ زره او ۶۰۰ ټنه یې افغانستان کې تولیدیږي.

په نړۍ کې د زعفرانو تولید په ټولیز ډول ۸ میلیارده امریکایي ډالر اټکل شوی دی او دم ګړۍ د افغانستان ونډه په دې برخه کې شاوخوا ۱۲ میلیون امریکایي ډالر ده، خو که په دې برخه کې پانګه اچونه وشي، افغانستان په کلني ډول د زعفرانو په اقتصادي بازار کې د ۳۰۰ میلیون ډالر ونډه اخیستی شي.

د اوړي په موسم کې زعفران زیاتو اوبو ته اړتیا نه لري، د حجم د کموالي له امله یې د لېږد رالېږد چاره اسانه ده. د زعفرانو د راټولولو او پروسس کابو ۸۰ سلنه چارې د مېرمنو او د کورنۍ د نورو غړو له خوا ترسره کېږي. د بې روزګارۍ په وخت ( لړم او لیندۍ) میاشتو کې د کلیوالو سیمو د اوسېدونکو لپاره د کار زمینه برابروي.

همدارنګه د ناروغیو او حشراتو پر وړاندې مقاومت او د نړیوال بازارغوښتنه د زعفرانو یوه بله ځانګړنه ده او د ځینو نباتاتو پر خلاف هرکال د ځمکې جوړولو او کرلو ته اړتیا نه لري ( د زعفرانو غوټې ترڅوکالو پورې په ځمکه کې پاتې کېږي).

یادو ټکو ته په کتلو سره، ویلای شو چې زعفران د هغه هېواد لپاره چې خاوره او اقلیم یې د زعفرانو د کرکیلې لپاره غوره ځای دی. د دې بوټي کرکیله، پالنه او په دې برخه کې پانګه اچونه غوره اقتصادي ارزښت لري او اقتصادي وده رامنځته کوي.

د کارموندنې په برخه کې د کرنیزو محصولاتو په ډله کې زعفران ترټولو

»

غوره بوټی دی. د تولید د درې ګونو پړاونو د ترسره کولو لپاره زيات شمېر کسانو ته نېغ په نېغه او يو شمېر نورو کسانو ته په غير مستقيم ډول د دندو زمينې برابروي.

افغانستان چې زيات شمېر وګړي يې له بې روزګارۍ کړېږي په دې هېواد کې د زعفرانو او نورو ورته کرنيزو توکو په برخه کې پانګه اچونه او دې کرنيزو توکو ته پاملرنه د هېواد په اقتصادي رغښت کې مرسته کولای شي او خلکو د دندو زمينې برابرولای شي.

د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو پر بنسټ اوس مهال د نړۍ په ۳۰ هېوادونو کې زعفران کرل کېږي. ايران، هسپانيا، افغانستان، هندوستان، يونان، مالديف، هانکانګ، چين، فرانسه او د عربو متحده امارات هغه هېوادونه دي چې په ۲۰۲۰ زيږديز کال کې يې تر ټولو زيات زعفران صادر کړي دي.

د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو پر بنسټ اوس مهال په هېواد کې د زعفرانو د کيفيت د کنټرول دوه لوی لابراتوارونه شتون لري. زيات شمېر بزګرانو ته د زعفرانو وچولو دستګاوې وېشل شوي دي، د زعفرانو د توليد، پروسس او بازار موندنې په برخه کې له ۴۳ ډېر کوچني شرکتونه فعال شوي دي.

هر يو مترمکعب اوبه يوګرام زعفران توليد وي چې بيه يې شاوخوا ۲ ډالره کېږي. په ورته وخت کې د زعفرانو ۱۰ کيلو ګرامه غوټې هم ورسره توليديږي. که چېرې د هرې کيلو منځنۍ بيه ۴ ډالر په پام کې ونيسو، نو ټولټال ۶ ډالره کېږي او په دې اندازه اوبو يوکيلو ګرام غنم، ۶ کيلو ګرامه کچالو او ۶.۵ کيلوګرامه لبلبو توليديږي چې د هغو بيه څوځلې له يوګرام زعفرانو او ۱۰ کيلو ګرامه غوټۍ څخه کمه ده.

دغه راز په ۲۰۰۶م کال د ترسره شويو مطالعاتو له مخې چې د زعفرانو پرتله له نورو کرنيزو محصولاتو سره تر سره شوه د زعفرانو ګټه له ټولو کرنيزو توکو ډېر ده.

د بېلګې په توګه د يو جريب ترياکو عايد شاوخوا ۸۰۰ ډالر دی، خو د يو جريب زعفرانو خالص عايد زرګونو ډالرو ته رسيږي چې دا د ترياکو ښه بديل کېدای شي او ښه ګټه هم لري.

د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو له مخې په ټوله نړۍ کې د زعفرانو اقتصادي ارزښت ۸ ميليارده امريکايي ډالرو ته رسېږي او په دې وروستيو کې په بازار کې د دې کرنيز محصول لپاره ۳۰ سلنه غوښتنې نورې هم زياتې شوې دي. دمګړۍ په افغانستان کې د نړۍ دوه سلنه زعفران توليدېږي، خو که په دې برخه کې پانګونه زياته شي، افغانستان د دې وړتيا لري چې د نړۍ ۵۰ سلنه زعفران توليد کړي. د افغانستان زعفران په نړيواله کچه غوره نوم لري او څو ځله يې د کيفيت له اړخه په نړۍ کې لومړی مقام خپل کړی دی.

افغانان چې زيات شمېر يې په کرنه بوخت دي. که دوی ته د زعفرانو د کرکيلې په اړه لارښوونې ورکړلې شي او دوی ته په دې برخه کې اړينې آسانتياوې برابرې شي. دا چاره کولای شي د دوی په ژوند کې مثبت پرمختګ رامنځته کړي. اوس د هېواد په ډېری ولايتونو کې د زعفرانو کرکيله دود شوې او پر نږدې ۸۲۰۰ هکتاره ځمکه زعفران کرل کېږي. ●

---

سرچينې:


۱. د افغانستان زعفران د افغانستان زعفران | د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت(mail.gov.af)

۲. ساحات تحت کشت زعفران در افغانستان ۷ درصد افزايش يافته است/ تاريخ ۲۷.۰۷.۲۰۲۰ /https://www.dw.com/fa-af

۳. زعفران افغانستان از لحاظ کيفيت "مقام اول" را در جهان بەدست آورد/ قوس ۳۰، ۱۳۹۸ https://da.azadiradio.com/a/30337613.html



# له پانګونې پرته سوداګري پیل کړئ

**کله چې د یو نوي کار د پیل خبره کېږي، ذهن ته مو د سوپر مارکیټ، ښکلي دفتر او نورو دندو په اړه چې ډېرې پانګې ته اړتیا لري، تصویر راځي. خو د زیاتې پانګې په اړه له فکر کولو وروسته له دې کاره انصراف کوو او له افسردګۍ سره مخ کېږو.**

که څه هم د هر کار پیل، پانګې ته اړتیا لري، خو دومره پانګه هم نه چې موږ یې حساب نه شو کولای. ټول هغه کسان چې دا مهال د پانګه‌وال، شتمن او بریالي سوداګر په نوم پېژنو دا د دوی هوښیارتیا، وخت پېژندنه، نوښت او ګواښ منل وو چې دوی یې د بریا دې لوړې پوړۍ ته رسولي دي.

د مقالې د عنوان په لیدو سره شاید ستاسو ذهن کې دا پوښتنه پیدا شوې وي چې له پانګې پرته دا امکان شته سوداګري پیل شي؟ په دې مقاله کې په لاندې ډول د داسې سوداګریو په اړه لنډ معلومات وړاندې کېږي چې تاسو کولای شئ له پانګې پرته او یا هم په ډېرې کمې پانګې سره کار پیل کړئ.

**له انټرنټ ګټه پورته کړئ**

د ټکنالوژۍ په دې پرمختللې نړۍ کې ډېر کم کسان دي چې لا هم انټرنټ ته لاسرسی نه لري. که تاسو یو له هغو کسان یاست چې انټرنټ ته لاسرسی لرئ، همدا اوس د ځان لپاره په ټولنیزو رسنیو کې یوه پاڼه جوړه کړئ. د خپل تخصص اړوند معلومات په کې را غونډ او د هغه لپاره بازار موندنه وکړئ. ستاسو معلومات او خدمتونه باید د بازار د غوښتنو مطابق وي. په یاد ولرئ چې انټرنټ د پیسو ګټلو غوره لاره ده، خو شرط په کې دا دی چې د خپل تخصص اړوند معلومات مو باید هره ورځ اپډېټ کړئ او په اړه یې زیاته مطالعه وکړئ.

»

**لاسي صنايع**

هنر هېڅ وخت خپل بازار له لاسه نه ورکوي. په دې شرط چې د ټولنې په اړتیاوو پوه شئ او دا درک کړئ چې کوم شی په کوم وخت کې د خلکو پام ځانته جلبوي. که تاسو د لاسي صنایعو د تولید هنر لرئ، همدا اوس یې پیل کړئ او بازار ته مو خپل هنر وړاندې کړئ. باور ولرئ چې ستاسو همدا هنر به تاسو یو وخت په لوی پانګه‌وال بدل کړي. د دې چارې پیل له ډېرې کمې پانګې او یا هم له هېڅ څخه شروع کېدای شي.

**غذايي صنايع**

خواړه هغه څه دي چې هېڅ وخت بازار له لاسه نه ورکوي. که تاسو په دې برخه کې نوښتګر او د داسې سبک خاوندان یاست چې کولای شی بازار ته تر نورو غوره او خوندور خواړه وړاندې کړئ. همدا نن یې ورځ ده او پیل یې کړئ. تاسو په خپل کور کې له ډېرو لومړنیو خوړنیزو توکو ډېر غوره خواړه تیارولی شی. مانا دا چې تاسو اړتیا نه لرئ چې دلته هم پانګونه وکړئ او له دې لارې خپل شخصي کار او بار پیل کړئ. تاسو له همدې ځایه پیل وکړی، کله مو چې له دې لارې سوداګری پرمختګ وکړ، بیا کولای شئ په دې برخه کې پانګه‌اچونه پیل کړئ او فعالیتونو ته مو پراختیا ورکړئ.

**خدمتونه**

نن سبا خدمتونه په افغانستان کې ښه بازار لري. په لومړي سر کې د خدمتونو د څرنګوالي په اړه فکر وکړئ او دا پیدا کړئ چې په کومه برخه کې ستاسو خدمتونه ښه بازار لري. پام مو وي داسې یو کار پیل کړئ چې په وس مو پوره وي. داسې ډېره پورته نه کړئ چې د پورته کولو توان یې و نه لرئ. د خپل توان مطابق خدمتونه پیل کړئ او په تدریجي ډول پراختیا ورکړئ.

**روغتيا او سلامتي**

د هېواد په دې ګردجنه او نامطبوع هوا کې ډېری خلک د خپلې روغتیا او سلامتیٰ لپاره اړ دي چې ستاسو تولیدي توکي واخلي او د څو شېبو لپاره په آرامی ژوند وکړي. که تاسو په دې برخه کې لږ پوهه هم ولرئ کولای شئ له دې لارې ډېرې پیسې وګټئ. لنډ مثال یې د کرونا ویروس د خپرېدو پر مهال د ماسکونو جوړول یادولای شو. تاسو هم له موقع په ګټې اخیستنې سره کولای شئ داسې یو څه تولید کړئ چې خلک ورته اړتیا لري. دوی به په ډېره لیوالتیا سره ستاسو د تولیدي توکو د پېر لپاره حاضر شي.

**بازار موندنه**

اړینه نه ده چې خپله تاسو د تولید کوونکي و اوسئ. که تاسو وکولای شئ چې د نورو کسانو د تولیدي توکو لپاره نوي پېرودونکي پیدا کړی، ډاډه اوسئ چې تاسو به له دې لارې ډېره ګټه تر لاسه کړئ. ډېرئ کسان دي چې غوره تولیدات لري، خو د پلورنې په لاره بلد نه دي.

**خبر رسونه**

د انټرنټ نننی نړی معلومات دومره زیات کړي دي چې خلکو سم له ناسمو معلوماتو سره ګډ کړي دي او په دې نه پوهېږي چې کوم یې د کار وړ او کوم یې نه دي.

که تاسو په داسې یوه سرچینه بدل شئ چې سم معلومات له ناسمو را بېل او خلکو ته سم معلومات وړاندې کړئ دوی به نه یوازې دا چې ستاسو منندوی و اوسي، بلکې د دې چارې لپاره به تاسو ته پیسې هم درکړي.

حسیب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

---

سرچینې:

١ – چګونه بدون سرمایه پولدار شویم؟/ مجموعه: برای زندگی بهتر— چګونه بدون سرمایه پولدار شویم؟(beytoote.com)

2 - How to Become Rich – It's More Than Millions In The Bank/Last Updated: June 5, 2021 BY MICHELLE SCHROEDER-GARDNER

How To Become Rich With No Money – It's More Than Millions In The Bank (makingsenseofcents.com)

# اقتصادي خبرونه



**د ا.ا.ا د اقتصادي او مالي چارو کمېسيون مشرتابه له ملي سوداګرو او د خصوصي سکټور له استازو سره وکتل**

دوشنبه، د محرم الحرام ۱۵مه ۱۴۴۳ هـ ق

د ا.ا.ا د اقتصادي او مالي چارو کمېسيون رئيس حاجي ملا هدايت الله بدري او ورسره ټيم يې له ملي سوداګرو او د خصوصي سکټور له استازو سره د ماليې وزارت په خيبر هال کې وکتل.

په دې ليدنه کې د افغانستان د سوداګرۍ خونې سرپرست محمد يونس مومند، ملي سوداګرو، صرافانو، پانګوالو او د خصوصي سکټور استازو ګډون کړی وو.

د ناستې په پيل کې د ياد کمېسيون رئيس حاجي ملا هدايت الله بدري، ګډونوالو ته ښه راغلاست ووېل او زياته يې کړه، چې سوداګري د افغانستان د پرمختګ اصلي محرك دی او سوداګر د هېواد ستره پانګه ده، اسلامي امارت به په بشپړ ډاډ او خلاصه ټنډه د دې سکټور ملاتړ کوي او د هېواد د ابادۍ لپاره به په ګډه کار کوي.

د ملي سوداګرو او خصوصي سکټور په استازولۍ خان جان الکوزي د اسلامي امارت د راتګ مبارکي ووېله او خپل وړانديزونه او ستونزې يې د کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړې او زياته يې کړه، چې په دې دوره کې زموږ امنيتي ستونزې حل شوي او په ډاډه زړه خپله سوداګري کوو.

نوموړي زياته کړه، چې خصوصي سکټور به نوي نظام ته د پرمختګ په برخه کې لاس ورکوي او اداري اوس د سيستم په لحاظ جوړې دي، سوداګري اوس بربېښنايي او جهاني شوې ده او ترڅنګ يې موږ د معتبرو نړيوالو سوداګريزو سازمانونو (ايکو، سارك او داسې نورو) غړيتوب او يو شان امتياز لرو.

ده ووېل، چې دې سيستم ته دې مسلکي او مخکيني با تجربه تخنيکي کسان راوستل شي ترڅو دا سيستم ټکنی نه شي او ظرفيت يې وساتل شي.

نوموړي ووېل، چې په هېواد کې دې ټرانسپورټ ژر فعاله، ګمرکي تعرفه دې له سره وکتل او يو شان شي ترڅو له

»

نړیوالو سوداګرو سره سیالي وکړای شو. ښاغلي الکوزي د کمېسیون له مشرتابه څخه په کلکه وغوښتل چې بانکونه دي ژر فعاله او ګمرکي دروازې پرانیستل شي ترڅو سوداګري پرمخ لاړه شي.

د سوداګرۍ خونې سرپرست یونس مومند وویل، چې سوداګري په هیڅ نظام پورې نه ده تړلې، بلکه شخصي ده او هیله مو دا ده چې دغه کمېسیون سوداګرو ته اسانتیاوې رامنځته، له نظام سره مو اړیکې پیاوړې شي او د اقتصادي چارو د سمون لپاره هره اوونۍ یوه ناسته ولرو.

د ناستې په پای کې د کمېسیون رئیس په نظام کې د سوداګرو ونډه ګټوره او اړینه وبلله او پرېکړه یې وکړه چې د اقتصادي او مالي چارو کمېسیون به د سیستم بېرته فعالولو په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کوي او ویې ویل چې د پورته یادو شویو موضوعاتو په تړاو موږ له ګمرکونو سره خبرې کړې او غواړو چې ټولې ستونزې له مشرتابه سره هم شریکې کړو.

**جلسه کمیسیون اقتصادی و مالی وزارت مالیه برگزار گردید**

چهارشنبه، ۱۶ محرم الحرام ۱۴۴۳

جلسه کمیسیون اقتصادی در خیبرهال وزارت مالیه برگزار گردید. در این جلسه که جمعی از مسئولین وزارت مالیه، از جمله مسئولین کمیسیون مالی و اقتصادی، رئیس معادن و صنایع، مسئول تجارت و صنایع، مسئول معدن و صنایع کابل، رئیس معادن و صنایع قندهار و رئیس معادن و صنایع پکتیا حضور داشتند، روی موضوعات مختلف اقتصادی بحث و تبادل نظر صورت گرفت. همین طور در رابطه امور معادن و صنایع کشور به منظور رشد اقتصاد کشور تصامیم لازم اتخاذ گردید.



منبع
صفحه فیسبوک وزارت مالیه



# د پیسو مدیریت او سپما

اقتصادي وضعیت، د عوایدو کموالی، د لګښتونو لوړوالی، پورونه، له وړاندې نا اټکل شوي لګښتونه او په ژوند کې ډېرې نورې بهانې شته چې موږ ته د دې اجازه نه راکوي چې پیسې مدیریت کړو او له خپلو عوایدو سپما وکړو.

خو د پیسو مدیریت دومره لوی کار نه دی، په لاندې ډول لسو داسې ټکو ته اشاره کوو چې که د پیسو او پانګې د مدیریت لپاره وکارول شي او د ژوند عادت جوړ شي، پیسې به په ښه ډول مدیریت شي او سپما به رامنځته شي:

**لومړی ګام؛ قلم او کاغذ را واخلئ**

ټول عواید بودجه بندي کړئ. ډېرئ خلک د لګښتونو لیست کول او پر هغې د بودجې وېش، سترې کوونکې چاره بولي او له بودجه‌بندۍ تېرېږي.

ټول هغه لګښتونه چې اداینه یې حتمي ده له ځان سره لیست کړئ، کله مو چې دا کار وکړ لګښتونه مو سره جمع کړئ او له خپلو میاشتنیو عوایدو یې منفي کړئ. د دې کار تر سره کول ستاسو حسابونه پاکوي او تاسو د خپل اقتصادي وضعیت په اړه وضاحت در کوي.

**دویم ګام؛ څه مو چې لیکلي پر هغې عمل وکړئ**

کله مو چې د بودجه بندۍ چارې بشپړې شوې پر هغې عمل وکړئ. د میاشتې په اوږدو کې په مرتب ډول د بودجه بندۍ مطابق لګښتونه وګورئ او وسنجوئ.

که تاسو په لیست کې له ذکر شویو لګښتونو پرته د نورو نویو لګښتونو سره مخ شوي یاست، یو ځل بیا خپله بودجه بندي وګورئ. تاسو باید هره شېبه پر دې پوه شئ چې د راتلونکو لګښتونو لپاره څومره بودجه لرئ.

**درېیم ګام؛ غیرضروري او غیرثابت لګښتونه مو محدود کړئ**

له بودجې بهر لګښتونو ته حدود وټاکئ. هغه پیسې چې تاسو ته د بودجه‌بندۍ وروسته پاتې کېږي یعنې ثابته بودجه کې مو له کسر څخه وروسته پاتې کېږي. تاسو کولای شئ خپلې دا پیسې په آرام فکر سره په تفریح ولګوئ او له ژوند خوند واخلئ. پام مو وي چې دلته هم تر حد زیات لګښت ښه نه دی.

**څلورم ګام؛ ظاهراً ناچیزه او کوچنیو لګښتونو ته پام وکړئ**

»

خپلو لګښتونو ته دقت وکړئ. تاسو ته شاید خپل کوچني او جزئي لګښتونه په نظر در نه شي، خو دا لګښتونه په چټکۍ سره وده کوي او لګښتونه مو د بودجه بندۍ څخه لوړوي. پام مو وي چې غیر ضروري څیزونه وانخلئ. هغه توکي چې تاسو یې اخلئ له ځان سره یې د پېرودنې له بیې سره لیست کړئ. د میاشتې په آخره برخه کې وګورئ چې په کومه برخه کې مو زیات لګښت کړئ دی او ولې مو دا چاره تر سره کړې ده. د راتلونکې میاشتې لپاره مو ضروري څیزونه لیست کړئ او غیر ضروري له لیست څخه وباسئ.

**پنځم ګام؛ تر دویمې خبرتیا نوی پور او قسط ممنوع دی**

هېڅ ډول نوی پور او قسط په میاشتني ډول مه زیاتوئ. دا چې ستاسو عواید دومره دي چې کولای شئ پر مټ یې خپل اوسنی پور پرې کړئ او یا هم قسط ورکړئ، دا په دې معنی نه ده چې تاسو باید بل پور هم واخلئ. پور اخیستل یوازې ستاسو پر اوږو بار زیاتوي او بس.

**شپږم ګام؛ د توکو غوره بیې پسې وګرځئ**

توکي په غوره بیې سره وپېرئ. کله چې د توکو او خدمتونو د پېرلو لپاره بازار ته ځئ، بیې یې له توکو او خدمتونو سره و ارزوئ او وګورئ چې د دوی تر منځ څومره انډول موجود دی. تاسو کولای شئ په بازار کې تر ټولو ټیټې بیې پیدا او د مناسبې بیې توکي او خدمتونه و پېرئ.

په یاد ولرئ کله چې تاسو بازار ته ځئ د اړوندو توکو یا خدمتونو په اړه د تخفیف پوښتنه وکړئ او یا هم د یادو توکو او خدمتونو مطابق ارزانه پیدا کړئ. شاید ډېرې کسان فکر کوي چې دا خسیس دی، خو داسې نه ده دا په اصل کې د پیسو د مدیریت غوره ډول دی.

**اووم ګام؛ د اوس لپاره لوړو بیو لرونکو څیزونو څخه تېر شئ**

لوړې بیې او لګښتونه وځنډوئ. د لوړو لګښتونو او توکو پېرودنې ځنډول تاسو ته د دې وړتیا در کوي چې خپلې پیسې په ښه ډول مدیریت کړئ. کله چې تاسو د لوړ لګښت لرونکو توکو پیرودنې ځنډوئ دا تاسو ته د دې فرصت درکوي چې د اړوند توکي په اړه لا زیاتې څېړنې وکړئ او په بازار کې د غوره بیو توکي و موندلای شئ.

د بیلګې په توګه که څه هم ستاسو د موتر لپاره د نوي صوتي سیستم پیرودل او یا هم د کور لپاره د تلویزیون اخیستل یوه ښه چاره ښکاري، خو که تاسو همدا پیسې سپما کړئ او خپل حساب کې یې وساتئ دا تر هغې ډېره غوره چاره ده او د پیسو په مدیریت کې مو مرسته کوي.

اتم ګام؛ تر ممکنه حده پور اخیستل هېر کړئ

هر څومره چې کولای شئ له پور اخیستلو څخه ډډه وکړئ. پور اخیستل د پیسو د مدیریت تر ټولو لوی دښمن دی. کله مو چې پیسې ختمېدلې د پور اخیستلو لپاره زړه مه ښه کوئ. کله چې له داسې یو حالت سره مخ کېدی، د پور تر اخیستلو زیات د پور پر بېرته ورکولو فکر وکړئ.

**نهم ګام؛ د پیسو مدیریت او سپما ته ژمن اوسئ**

له ځان سره مو ژمنه وکړئ چې خپل بانکي حساب کې به پیسې غونډوئ. دا چاره کولای شي د وخت په تېرېدو سره ستاسو په عادت بدله شي. که مو دا چاره تر سره کړه د پیسو د مدیریت لپاره به هېڅ بهانه درته پاتې نه شي.

**لسم ګام؛ په نیکو کې تلوار**

د پیسو مدیریت تمرین او ساتنه ده. په ژوند کې که هر څومره دا چاره تکرار او خپل عادت وګرځوئ کولای شئ ښه مدیریت ولرئ او زیاته سپما وکړئ.●

حسیب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

سرچینې:


1. 10 Simple Ways to Manage Your Money Better/ BY LATOYA IRBY/ Updated June 16, 2020/ 10 Simple Ways to Manage Your Money Better (thebalance.com)

2. Financial Literacy through Character Development/ A Unique Framework/ Financial Literacy for Kids & Teens - Teach them from young ages (mindtreasures.com)

3. Top 10 Money Management Tips/ Nina Semczuk, CEPF® JAN 09, 2018/ Top 10 Money Management Tips - SmartAsset

# احتکار و اضرار آن برای جامعه

احتکار عبارت از آن است که کالا و مواد اولیه مورد ضرورت مردم، از دید دولت و مردم بخاطر گران فروشی پنهان نگهداری شود. شخصی که این کار را انجام می دهد به آن محتکر گفته می شود.

ملاک و معیار احتکار دو چیز است، اول اینکه مردم به کالای احتکار شده بطورجدی نیاز داشته باشد و دوم اینکه فروشنده و عرضه کنندهٔ دیگری وجود نداشته باشد که مردم از او کالای مورد ضرورت خود را خریداری نمایند.

همچنان، احتکار پنهان کردن یا امتناع از عرضهٔ مواد اولیهٔ مورد احتیاج عادی جهت سود جویی بیشتر و فروش به نرخ بلند تر از قیمت رقابتی به گونهٔ که منجر به کمبود مواد اولیه و افزایش قیم در بازار گردد، می باشد.

در افغانستان قانون احتکار مواد اولیهٔ ارتزاقی و مصرفی مورد نیاز عامه و مبارزه علیه آن درحالت قحطی، صعود قیم و حوادث غیر مترقبه وضع گردیده است. مواد اولیهٔ ارتزاقی و مصرفی مورد نیاز عامه، شامل گندم، آرد، برنج، روغن و مواد محروقاتی مانند نفت و گاز می باشند.

ممنوعیت احتکار در انبار کردن اجناس مورد نیاز مردم به ویژه در این عصر تنها به مواد خوراکی خلاصه نمیگردد، بلکه امروز انسان ها به مسکن، خوردن، نوشیدن، لباس، دوا، تعلیم و تربیه، وسایل حمل و نقل، وسایل ارتباطی و غیره نیز ضرورت دارند.

در حقیقت انبار هر چیزی که به مردم ضرر برساند، احتکار محسوب می گردد. به هر اندازهٔ که نیاز مندی مردم به یک جنس بیشتر باشد و محتکر آنرا احتکار نماید؛ گناه آن به مراتب بیشتر است. از همین سبب است که در مقدمهٔ تمام نیازمندی ها، مواد خوراکی قرار دارد، زیرا مردم به آنها اشد ضرورت دارند.

غریزهٔ زیاده خواهی بشر در زمینه های مختلف قابل بر رسی بوده و یکی از موارد مهم آن احتکار است. این عمل یک عمل مذموم و نا پسندیده است که در صورت عدم برخورد جدی و قانونی با آن، بنیاد جامعه را سست می سازد. در جامعهٔ امروزی ما پدیدهٔ شوم احتکار، یکی از مصادیق عمدهٔ تجاوز به حقوق اجتماعی است که پیامد بی نهایت زیان بار را در جامعه در پی دارد. بناءً ایجاب می

»



نماید تا در برابر احتکار طبق قانون اجراآت صورت گیرد که براساس آن، روابط میان مالکیت خصوصی افراد در بازار مصرف تنظیم گردیده و عامهٔ مردم، فقراء و نیازمندان اسیر گرانفروشی محتکران نگردند.

سایر پیامدهای منفی احتکار عبارت اند از: فشار اقتصادی بر مردم، ترویج ناامیدی و نا امنی در جامعه و همچنان، عدم دسترسی به مایحتاج ضروری زندگی مردم است.

اگر واسطه های توزیع، مواد مورد ضرورت را بجای رساندن آن به مصرف کنندگان، آنها را در انبار ها پنهان کرده و به بازار سیاه به قیمت چند برابر بیشتر به دست مصرف کنندگان برسانند، فلسفهٔ وجودی خود را بکُلی نقض می کنند.

البته در صورت موجودیت اختلال در توزیع مناسب و به موقع کالاها و انبار آن توسط عدهٔ محدودی، اختلال در نظام توزیع ثروت نیز بمیان آمده و ثروت در دست طبقهٔ خاص قرار می گیرد و آنها بواسطهٔ احتکار، ثروت نا مشروع و هنگفتی را بدست آورده و مانع گردش صحیح پول و ثروت در جامعه می شوند که درپی آن، جامعه به فساد کشانیده شده و اقتصاد به شکست مواجه می گردد.

احتکار، قدرت خرید مردم را کاهش داده و یا هم از بین می برد، زیرا در نظام اقتصادی انسانی، بدور از سود جویی مطلق، هر مقدار پولی که در اختیار یک فرد است، به اساس آن، فرد حق دارد کالا های مورد نظر خود را تهیه نماید. اما موجودیت احتکار این حق را از او سلب می نماید. در واقع احتکار نه تنها نوعی پایمال کنندهٔ حقوق افراد است، بلکه بیماری خطرناک اجتماعی است که در صورت ادامهٔ آن زنجیرهٔ نظام جامعه مختل می گردد.

احتکار در حقیقت اعلان جنگ با عواطف انسانی بوده و محتکر درست در زمانی که مردم از کمبود کالا رنج می برند، آنرا پنهان کرده و منابع کُل مردم جامعه را فدای منافع شخصی خود می کند. در چنین حالت انسان های مرفه در منزل شان انبار و ذخیره دارند و در مقابل، تنها فقراء اند که در خانه های شان ذخیرهٔ نداشته و حتی پرداخت یک افغانی هم در زندگی آنها اثر می گذارد. بناءً احتکار و گران فروشی امری است که نمی توان آنرا یک جنایت و ظلم کوچک فکر کرد.

بعضی دانشمندان به این نظر اند که پس از آنکه عصر پول آغاز گردید، پول بر تجارت مسلط شد، تولید و فروش شیوهٔ جدید را بخود گرفت، تولید به زر اندوزی و جمع ثروت مبدل شد، توازن عرضه و تقاضا برهم خورد، انگیزه های احتکار در میان عرضه و تقاضا نقش خطیر خود را ایفاء کرد. محتکر تقاضای کاذبی را بوجود آورد، آنها کالاهای مورد نظر شان را از بازار های خریداری کردند. آنها این عمل را بخاطر احتیاج شان انجام نمی دادند، بلکه بخاطر بلند رفتن قیمت آن کالا ها، این کار را کردند. احتکار کنندگان بخاطر داشتن انبار کالای مورد نیاز مردم، تولید کنندگان و فروشندگان دیگر را مجبور می ساختند تا از صحنه رقابت عقب نشینی کرده و اعلان ورشکستگی کنند تا بتوانند کالاهای کم ارزش را به بازار عرضه کنند و به این ترتیب ارزش ها، شکل طبیعی خود را از دست میداد و تحت سیطرهٔ احتکار قرار می گرفت و در آنصورت هزاران تولید کننده و فروشنده تحت سیطرهٔ احتکار قرار گرفته سقوط میکردند.

در نهایت می توان از دیگر اثرات سوء احتکار که عبارت اند از پائین آمدن کیفیت کالا، افزایش بیکاری، کاهش قدرت خرید مردم، بوجود آمدن بحران در نظام اقتصادی، عدم سرمایه گذاری در بخش تولید و بلند رفتن نرخ کالا و غیره نیز نام برد.

عبدالحفیظ شاهین

---



منابع:

http://law.acku.edu.af*قانون منع احتکار*. شماره مسلسل: ). ۳۱. (. تاریخ فیصله: ۸/ ۳/. ۱۱۳۱. به تأسی از حکم مندرج مادهٔ صدم *قانون* اساسی

https://btid.org › news / عنوان / حتکار چیست و محتکر کیست؟ تاریخ نشر: ۱۳۹۹/۰۷/۱۱/ نویسنده: حامد زمانی

https://www.mehrnews.com ۱۲ آسیب احتکار؛ از اختلال در نظام توزیع تا پرشدن جیب عده ای

تاریخ نشر: ۱۱/ ۷ / ۱۳۹۱



## بانکداری از طریق موبایل

پیشرفت های چشمگیر در عرصهٔ تکنالوژی در جهان باعث شده است تا سکتور مالی نیز خدمات مالی را به مردم به شیوه ساده تر، آسان و کم هزینه عرضه نماید. استفاده از تکنالوژی در بخش خدمات مالی فینتک نامیده می شود که بانکداری از طریق موبایل، ماشین خود کار صرافی، ماشین پاس و خدمات از این قبیل شامل آن می باشند.

بانکداری از طریق موبایل عبارت از دسترسی به حساب بانکی و انجام معاملات بانکی با استفاده از تیلیفون و تبلت می باشد. موبایل بانکینگ با استفاده از پیام های کتبی یا مسج و یا از طریق اپلیکیشن یک بانک انجام میشود. با استفاده از موبایل بانکینگ می توانید تا معاملات بانکی خویش را از خانه، محل کار و یا هر جای دیگر که خواسته باشید، انجام دهید. برای استفاده از موبایل بانکینگ ضرورت است تا در موبایل خویش انترنت داشته و اپلیکیشن ( اپ) بانک مربوطه را داشته باشید.

موبایل بانکینگ همیشه، در هر وقت و هرجا که انترنت در دسترس باشد، قابل استفاده می باشد. باید یادآور شد که بخاطر مصونیت پول مشتری و کاهش خطرات سرقت های انترنتی، بعضی از بانک ها یک سقف ( حد) پولی را تعیین کرده و شما می توانید در نهایت تا همان مبلغ، معاملات بانکی تان را با استفاده از موبایل بانکینگ انجام دهید. البته که این سقف یا حد پولی از یک بانک تا بانک دیگر می تواند از هم تفاوت داشته و حتی براساس درخواست مشتری، افزایش یا کاهش یابد. باید بخاطر داشت که بانک ها تدابیر جدی و قوی رمزگذاری را بخاطر جلوگیری و کاهش خطرات سرقت نام و رمز عبور مشتریان شان اتخاذ می نمایند.

با استفاده از موبایل بانکینگ، یک شخص به آسانی می تواند تا حساب خود را چک کرده، از حساب خود به حساب دیگران پول انتقال داده و بل های خود را پرداخت کند. استفاده از موبایل بانکینگ نیازمند دانش و مهارت ابتدایی استفاده از تیلیفون های موبایل و اپلیکیشن های آن بوده و دست کم یک شخص باید با استفاده تیلیفون های هوشمند، انترنت و سافت ویرهای قابل استفاده در موبایل، آشنایی ابتدایی داشته باشد.

بانکداری ذریعهٔ موبایل، هزینه های مختلف انجام معاملات بانکی را کاهش میدهد. بطور مثال در صورت استفاده از موبایل بانکینگ شما ضرورت ندارید تا بخاطر دیدن صورت یا بیلانس تان به نمایندگی بانک ها مراجعه کنید، بلکه این کار را به سادگی می توانید از خانه انجام دهید. قابل یادآوریست که با استفاده از موبایل بانکینگ شما تنها معاملات غیر نقدی را انجام داده می توانید.

بانکداری ذریعه موبایل دارای مزایایی نیز است که به شرح ذیل می باشند:

- دسترسی به حساب بانکی با استفاده از انترنت و تیلیفون موبایل در هر جا و هر وقت
- دسترسی به صورتحساب بانکی
- ارسال پول از یک حساب به حساب دیگر
- پرداخت بل های برق، تیلیفون و غیره





# مالي خپلواکۍ ته د رسیدو لارې




د ژوند په هره مرحله کې انسانان غواړي چې مالي خپلواکي ولري او چا ته یې د مالي لحاظه لاس اوږد نه وي. مالي خپلواکي دې ته وایي چې که چېرته کوم کس خپله دنده، سوداګري او د عاید لار له لاسه ورکړي، په ژوند کې یې بدلون رامنځته نه شي. یعنې هغه کارونه یې چې له وړاندې تر سره کول د عاید په درېدو سره په هغې کې ځنډ رامنځته نه شي او ژوند یې په عادي ډول وچلیږي، دې ته مالي خپلواکي وایي.

که غواړئ چې تاسو هم مالي خپلواکي تر لاسه کړئ او په راتلونکې کې چا ته اړ نه شئ، غوره ده چې له وړاندې د خپلې راتلونکې لپاره چمتوالی ولرئ او د مالي خپلواکۍ لپاره کار وکړئ. په دې مقاله کې مالي خپلواکۍ ته د رسېدو په اړه معلومات را غونډ شوي دي چې تاسو ته وړاندې کیږي.

**د ژوند سبک مو وټاکئ**

فکر وکړئ چې که چېرته تاسو سهار وختي له خوبه نه پاځیږئ او دندې ته نه ځئ، تاسو به چېرته ژوند کوئ؟ خپل وخت به څنګه تېروئ؟ که غواړئ چې په راتلونکې کې مالي خپلواکي ولرئ، نو له وړاندې مو یادو او یو شمېر نورو پوښتنو ته ځواب پیدا کړئ. هغه کسان چې په دې اړه له وړاندې فکر کوي، دوی د خپل ژوند سبک په خپله خوښه ټاکي او د مالي خپلواکۍ لپاره چمتوالی نیسي.

مه هېروئ چې که د ځوانۍ په ورځو کې مو له لګښتونو سره احتیاط وکړئ، د بوډاتوب پر مهال به مو هر څه په کنترول کې وي او اړ به نه یاست چې هغه مهال هم کار وکړئ.

**لګښتونه مو حساب کړئ**

همدا اوس مو په تېر یوه کال کې خپل لګښتونه حساب کړئ. د لګښتونو حساب شاید تاسو ته ستونزمن معلوم شي، خو کولای شئ د خپل بانکي سټیټمینټ په کتلو سره دا ټول حساب تر لاسه کړئ.

«

زما موخه دا نه ده چې تاسو د هرې لګول شوې روپۍ لپاره حساب وکړئ، بلکې تاسو کولای شئ خپلې ټولې لګول شوې پيسې چې له بانک او دندې مو تر لاسه کړې دي حساب کړئ.

په ياد ولرئ چې که مو په تېر يوه کال کې سپما نه وي کړې، دا ستاسو د راتلونکې لپاره د خطر زنګ دی او دا چاره مو اړ کوي چې د عايد په بنديدو سره کار کولو ته اړ شئ او که مو سپما کړې وي، بيا نو تاسو بريالي ياست او کولای شئ د خپلو لګښتونو په مديريت سره دا چاره نوره هم پياوړې کړئ. د نن ورځې د لګښتونو مديريت او په دې برخه کې د کموالي راوستل تاسو ته د دې وړتيا در کوي چې يوه ښه راتلونکې ولرئ او په مالي لحاظ خپلواک وئ.

**څومره سپما ته اړتيا لرئ؟**

همدا اوس د حساب ماشين را واخلئ او د تقاعد تر ورځې مو وخت حساب کړئ. همدا اوسنی کلنی عايد مو د تقاعد کېدو تر ورځې حساب کړئ چې څومره کيږي. کله چې تاسو دا حساب تر لاسه کړ له ياد حساب څخه د سپما برخه هم معلومه کړئ. هڅه وکړئ چې هره مياشت د سپما تر ټاکل شوې کچې زيات څه سپما کړئ. دا چاره به له تاسو سره ټاکل شوې موخې ته په رسېدو کې مرسته وکړي.

**د سپما حساب جوړ کړئ**

که غواړئ چې مالي خپلواکي ولرئ او تر تقاعد وروسته اړ نه وی چې کار وکړئ د ځان لپاره په بانک کې د سپما يو حساب جوړ کړئ. که تر اوسه مو هم د ځان لپاره د سپما حساب نه وي جوړ کړی، همدا اوس هم نا وخته نه دی. که فکر کوئ چې عايد مو کم دی او نه شئ کولای له خپل دې کم عايد سپما وکړئ، پر لګښتونو له سره غور وکړئ او له خپلو ورځنيو لګښتونو هغه توکي ليرې کړئ چې ډېر اړين نه دي. په دې سره به نه يوازې دا چې د يادو توکو پيسې ستاسو سره پاتې شي، بلکې يادې پيسې به مو د سپما په حساب کې د راتلونکې لپاره د مالي خپلواکۍ لپاره وساتئ.

**پانګه‌اچونه وکړئ**

مخکې مو له سپما څخه يادونه وکړه. د سپما پيسې مو ضرور نه ده چې نغدې له ځان سره وساتئ، تاسو کولای شئ چې په همدې پيسو پانګه اچونه وکړئ. که همدا چاره تر سره کړئ سپما شوې پيسې به مو د هرې ورځې په تېرېدو سره زياتې شي او د مالي خپلواکۍ لپاره ټاکل شوې موخې ته رسېدل به درته آسانه شي.

شايد ستاسو ذهن کې دا پوښتنه را پيدا شوې وي چې د سپما په دومره کمو پيسو څنګه کولای شئ چې پانګه‌اچونه وکړئ او يا هم دا چاره تاسو ته نامکنه ښکاره شي، خو داسې نه ده. ډېرى کسان چې اوس لويې سوداګريزې او توليدي کمپنۍ لري دوی له ډېرې کمې پانګې اچونې خپل کاروبار را پيل کړی دی او د وخت په تېرېدو سره يې ښه پرمختګ کړی دی.

تاسو هم کولای شئ خپلې د سپما پيسې په داسې يوه برخه کې ولګوئ چې د وخت په تېريدو سره ښه ګټه درته وکړي او پيسې مو زياتې شي.

په ياد ولرئ چې په ژوند کې د هر کار د پرمختګ لپاره د پلان شتون اړين دی. که غواړئ چې غوره راتلونکې ولرئ او مالي خپلواکي تر لاسه کړئ، نو د دې موخې د تر لاسه کولو لپاره د پلان شتون اړين دی. د پلان لرل تاسو ته د دې وړتيا درکوي چې موخې مو ګام پر ګام و څارئ او تر هغې پورې په ډېرې آسانۍ سره ځان ورسوئ.

ژباړه او زياتونه

حسيب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفيسر

سرچينې:

5 - 1Steps To Plan For Your Financial Independence Day/Erik CarterContributor/ Jul 5, 2021,

5Steps To Plan For Your Financial Independence Day (forbes.com)

- 2How To Plan For Your Financial Independence Day/ Jul 1, 2019

https://www.forbes.com/sites/financialfinesse/2019/07/01/how-to-plan-for-your-financial-independence-day/?sh=1435862311ea



# چگونگی رسیدن به رشد اقتصادی

موضوع اقتصاد و پیشرفت های علمی همواره در دستور برنامه های اقتصادی کشور های در حال توسعه جا دارد که بر اساس آن به لزوم حمایت از تولید و اعتدال در مصرف تأکید می گردد. دولت ها همیشه در این عرصه کوشش می نمایند تا حمایت از تولیدات داخلی و چگونگی استفاده از آنها را در میان مردم تعمیم نمایند. افغانستان نیز از جمله کشور های است که باید در این راستا کار نماید.

هویداست که حمایت از تولیدات داخلی نه تنها به رشد تولیدات داخلی، بلکه برای رفع بیکاری، افزایش درآمد، رشد تجارت داخلی و بین المللی، پیشرفت صنایع و کارخانجات و در کُل به توسعهٔ پایدار می انجامد. بناءً افغانستان در عرصهٔ توسعهٔ پایدار، باید رشد تولیدات داخلی را پایه و اساس قرار دهد تا در کنار تأمین مایحتاج ملی، زمینهٔ را برای صادرات این تولیدات فراهم نماید.

در کنار موارد فوق، باید در بکارگیری توان بالقوهٔ نیروی خبرهٔ انسانی بخصوص بالای نیروی جوان و توانمند کشور توجه جدی گردد و در جهت دستیابی به استقلال اقتصادی گام های جدی برداشته شود. در صورت تحقق این امر از فرار مغزها جلوگیری شده، موضوع اشتغال حل گردیده و رشد اقتصادی نیز استحکام پیدا می کند.

دولت افغانستان با در نظر داشت اهمیت تولیدات داخلی می داند که تولید با کیفیت در پی خود، رشد، شکوفایی، کار، بهره گیری از طبیعت، رفع نیازمندی های زندگی و سرانجام رفاه شخصی و عمومی را در پی داشته و باعث رفع بیکاری، رهایی از وابستگی ها، استحکام اقتصاد داخلی، افزایش درآمد ملی، کاهش واردات، افزایش صادرات و پیشرفت در سایر عرصه های زندگی می گردد.

عبدالحفیظ شاهین

---

منابع:

١. https://da.azadiradio.com / عنوان/ مردم افغانستان به شغل و کار نیاز دارند. تاریخ نشر ٢٣ /١١/ ١٣٨٨

٢. Bbc.com/Persian/afghnastan/55788110 / عنوان / افغانستان در تولید ۵۶ نوع کالا ی مصرفی به خود کفایی رسیده/ تاریخ نشر : ۵/ ١١/ ١٣٩٩

٣. ocs.gov.af/dr/article_ details/25 / عنوان/ نگاهی به رشد اقتصادی افغانستان / عنوان/ نگاهی به رشد اقتصادی افغانستان/ تاریخ / ٢ /٩/ ١٣٩۶ / نویسنده: ضیاء دانش

# په ۲۰۲۰ زېږدیز کال کې د نړۍ لس ستر صادراتي هېوادونه

په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې د نړۍ د صادراتو کچه ۱۷.۳۰۹ تریلیونه امریکایي ډالر ښودل شوې ده چې د تېرو ۵ کلونو په پرتله ۸.۶ سلنه زیاتوالی ښیي، خو د ۲۰۱۹ کال په پرتله په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې ۷.۶ سلنه کموالی راغلی دی. په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې د نړۍ د صادراتو کچه ۱۸.۷۳۴ تریلیونه امریکایي ډالر وه.

چین، د امریکا متحده ایالات، جرمني، جاپان، نیدرلند، هانګ کانګ، سویلي کوریا، ایټالیا، فرانسه او بلجیم په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې د نړۍ لس ستر صادروونکي هېوادونه دي. دا لس ستر صادروونکي هېوادونه د ټولې نړۍ د صادراتو تر نیمایي زیات (٪۵۲.۳) صادرات لري.

د نړۍ هغه لس هېوادونه چې په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې یې تر ټولو زیات صادرات درلودل، په لاندې ډول دي:

**چین:** د یاد هېواد په صادراتو کې د ۲۰۱۹ کال په پرتله په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې ۳.۷ سلنه زیاتوالی راغلی دی. په یاد کال کې چین د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته تر دوه نیم تریلیونه د زیاتو امریکایي ډالرو صادرات لرل. چین د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په ډله کې دی چې اوس مهال یې د نړۍ په کچه د لوی صادرونکې هېواد نوم هم ګټلی دی.

**امریکا:** د امریکا متحده ایالتونه هغه هېواد دی چې په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې یې په نړۍ کې د دویم

«



ستر صادرونکي هېواد مقام خپل کړی دی. دې هېواد په یاد کال کې د څه باندې ۱.۴ تریلیون امریکايي ډالرو په کچه صادرات لرل. د امریکا د صادراتو کچه په یاد کال کې د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په پرتله ۱۳ سلنه را ټیټه شوې ده.

**جرمني:** جرمني په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې د څه باندې ۱.۳ تریلیونو امریکايي ډالرو په کچه صادرات کړي دي. که څه هم په ۲۰۲۰ کال کې جرمني د نړۍ دریم لوی هېواد دی چې ډېر صادرات لري، خو په یاد کال کې د دې هېواد د صادراتو په کچه د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۷.۳ سلنه کموالی راغلی دی.

**جاپان:** جاپان په نړۍ کې د ۲۰۲۰ زیږدیز کال څلورم لوی صادرونکی هېواد دی. یاد هېواد په دې کال کې د نږدې شپږ نیم سوه میلیارده امریکايي ډالرو په کچه صادرات لرل. د دې هېواد د صادراتو په کچه کې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۹.۲ سلنه کموالی راغلی دی.

**نیدرلنډ:** نیدرلنډ په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې د نړۍ پنځم لوی صادرونکی هېواد دی. دې هېواد په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې څه باندې ۵۵۰ میلیارده امریکايي ډالرو په کچه صادرات لرل. که څه هم دې هېواد په یاد کال کې په نړۍ کې د پنځم لوی صادرونکي هېواد مقام خپل کړی دی، په ۲۰۱۹ کال کې د نیدرلنډ د صادراتو کچه د ۲۰۲۰ زیږدیز کال په پرتله زیاته وه. د دې هېواد په صادراتو کې په ۲۰۲۰ کال کې ۴.۴ سلنه کموالی راغلی دی.

**هانګ کانګ:** هانګ کانګ په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې د ۲۰۱۹ په پرتله ۳ سلنه زیات صادرات لرل. د دې هېواد د صادراتو کچه په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې څه باندې ۵۵۰ میلیارده امریکايي ډالرو ته رسېږي. په یاد کال کې هانګ کانګ د نړۍ شپږم لوی صادرونکی هېواد دی.

**سویلي کوریا:** دا هېواد په ۲۰۲۰ کال کې د نړۍ اووم لوی هېواد دی چې زیات صادرات یې لرل. دې هېواد په دغه کال کې د څه باندې ۵۱۲ میلیارده امریکايي ډالرو په کچه صادرات کړي دي. د دې هېواد په صادراتو کې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۵.۴ سلنه کموالی راغلی دی.

**ایټالیا:** دا د نړۍ اتم هېواد دی چې په ۲۰۲۰ کال کې یې زیات صادرات لرل. د دې هېواد د صادراتو کچه په یاد کال کې څه باندې ۴۹۵ میلیارده امریکايي ډالره وه. دا هم د هغو هېوادونو له ډلې دی چې د تېر ۲۰۱۹ کال په پرتله یې په صادراتو کې کموالی راغلی دی. د ایټالیا په صادراتو کې په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې ۷.۸ سلنه کموالی راغلی دی.

**فرانسه:** فرانسه هم په ۲۰۲۰ کال کې د هغو لسو هېوادونو په کتار کې ده چې زیات صادرات لري. دا د نړۍ نهم نمبر هېواد دی چې په یاد کال کې یې د څه باندې ۴۷۵ میلیارده امریکايي ډالرو په اندازه صادرات لرل. د دې هېواد د صادراتو په کچه کې هم د ۲۰۱۹ میلادي کال په پرتله ۱۴.۴ سلنه کموالی راغلی دی.

**بلجیم:** دا د نړۍ لسم نمبر هېواد دی چې په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې یې د نورو هېوادونو په پرتله زیات صادرات لرل. د دې هېواد صادرات په یاد کال کې څه باندې ۴۱۹ میلیارده امریکايي ډالر وو. د دې هېواد په صادراتو کې هم د ۲۰۱۹ میلادي کال په پرتله ۶.۱ سلنه کموالی راغلی دی.

ژباړه او را ټولونه

حسیب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

سرچینې:

1. World's Top Export Countries/ by Daniel Workman
2. World's Top Export Countries 2020 (worldstopexports.com)


پول افغانی نشانهٔ افتخار،
اقتدار و هویت ملی ماست!

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک
سال پانزدهم شماره ۱۶۸-۱۷۰ سنبله ۱۴۰۰



**ګرانو هېوادوالو!**

**د پېر او پلور پرمهال د افغانۍ د کارولو ترڅنګ؛ ساتنې ته يې هم جدي پاملرنه وکړئ چې له ټاکلي وخت مخکې زړې نه شي.**